## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# ستاسو د ماشوم لپاره د اړیکو جوړولو فرصتونه

### هغه فعالیتونه او ستراتیژیانې چې باید و یې آزمایئ:

دا مهمه ده چې د اړیکو فرصتونه را منځته کړئ تر څو په هغوی کې ماشوم غوښتنو او تعامل ته وهڅول شي.

- **غوراوي ورکړئ**: دوه شیان ورته وښیئ (لکه یو توپ او پوکانۍ). پوښتنه وکړئ چې "ایا توپ غواړې"؟ (توپ وښیئ) "یا پوکانۍ"؟ (پوکانۍ ورته وښیئ). اجازه ورکړئ چې هغوی یې واخلي. د هغه څه نوم ووایئ چې هغه واخیستل. ډاډ حاصل کړئ چې هغوی لومړی دواړو شیانو ته ګوري.

- **کم کم او د وخت په تېرېدو:** خپل ماشوم ته د لوبو پر مهال په یوه وخت کې څو د لوبو وسیلې ورکړئ. کله چې هغوی لوبې پای ته ورسولې، هغوی باید غوښتنه وکړي یا وښیي چې نور د لوبو وسایل غواړي.

- **ماشومانه کارونه وکړئ:** یو غیرمتوقع کار وکړئ لکه په پیاله کې د یوې کیلې کېښودل! وګورئ چې هغوی تاسو ته ښیي چې دا ناسم دی که نه.

- **له مرستې کولو څخه وړاندې صبر وکړئ:** ماشوم ته صبر وکړئ تر څو تاسو ته ووایي یا وښیي چې هغه ستاسو مرستې ته په ورځنیو کارونو کې اړتیا لري لکه د هغوی کوټ اغوستل. هغوی ته نږدې پاتې شئ، تر څو هغوی پوه شي چې تاسو هلته یاست. مخکې له دې چې له هغه سره مرسته وکړئ، وخت ورکړئ چې هغه ستاسو د مرستې غوښتنه وکړي. له مرستې کولو څخه مخکې صبر کول ماشوم ته دا چانس ورکوي تر څو وښیي چې هغوی مرستې ته اړتیا لري (لکه تاسو ته د پیالې راوړل). مه پرېږدئ چې ستاسو ماشوم د ډېر وخت لپاره انتظار پاتې شي، که چېرته هغه نه پوهېږي چې له تاسو سره څنګه خبرې وکړي.

د اړیکو هر ډول ته اجازه ورکړئ، لکه خبرې کوئ یا غیرکلامي اړیکې. که چېرته هغه تاسو ته ګوري، اشاره کوي، یا کوم څه درکوي، دا اړیکې دي.

تل هغه کلیمه ووایئ چې هغه یې غواړي یا هغه کار چې هغه یې غواړي ترسره کړي.